# د نرسانو قدرت د یوه شخص په توقیف کولو کی چه د دماغي ناروغي د علاج کولو د پاره په یوه روغتون کي داخل بستر دي

(د 1983 د دماغي روغتيا لايحه، (4) 5 برخه)

1. د ناروغ نوم

2. د هغه کس نوم چه ستاسو په علاج کي صلاحيت لري

3. د نرس نوم چه تاسو ته دلته ساتلي دي

## ولي زه نه شم کولاي چه دغه روغتون ترک کړم؟

تاسو د 1983 د دماغي روغتيا د لايحی تر(4) 5 برخی لاندي په دغه روغتون کي ساتل کيږي . دغه يو قانوني توان دي چه يوه نرس ته اجازه ورکوي چه تاسو په روغتون کي وساتي تر هغه وخت پوري چه تاسو د يوه کس چه هغه ستا د علاج صلاحيت لري او يا د هغه مرستيال له خوا وکتل شی. نرس باور لري چه تاسو يوه دماغي ناروغي لري او په کافي توګه بنه نه ياستی چی روغتون ترک وکړي .

مرستيالَ د ځني کسانوپه معني يعني هغه کس چه وکولاي شي په هغه وخت يوه تصميم ونيسي کله چه ستاسو صلاحيتدار شخص کوم ځاي ته تللي وي.

## څومره موده به زه دلته يم؟

تاسو مجبور ئي چه په دغه روغتون کي تر شپږو ساعتو پوري پاتي شي او يا تر هغه وخت پوري چه ستاسو د علاج صلاحيتدار کس او يا د هغه مرستيال تاسو ته ووائي چه تاسو روغتون ترک کولاي شي. که چيري تاسو کوشش وکړي چه ولاړ شي کارکونکي تاسو را ګرځولي شي، او که چيري تاسو روغتون ترک کړي ، تاسو بيرته راوړل کيږي.

ستاسو په قضيه کي شپږ ساعت داسي ختميږي:

نيټه:

که چيري ستاسو د علاج صلاحيتدار شخص او يا د هغه مرستيال تر اوسه پوري ( د شپږو ساعتو تر پايه) تاسو نه ياست ليدلي، تاسو ازاد يي چه روغتون ترک کړي. لاکن که چيري تاسو فيصله وکړي چه روغتون ترک کړي، لطفاً مخکی در دی بايد د نرس او يا د کارکونکو د نورو غړو سره خبري وکړي.

## تر هغه وخت پوري چه زه دلته ساتل کيږم څه به رامنځ ته شي؟

د روغتون کارکونکي د هغه علاج په باره کي چه دوي فکر کوي چه ته ضرورت ورته لري تاسو ته وايي . هغه علاج چه تاسو نه غواړي تاسو حق لري چه هغه رد وکړي . يواځي په خاصو شرايطو کی، هغه چه تاسو ته به تشريح شي ، هغه علاج چه تاسو د هغه سره موافقه هم ونلري او تاسو ته درکول کيږي .

## بيا به څه کيږي؟

ستاسو د علاج صلاحيتدار شخص، او يا د هغه مرستيال، کولاي شي فيصله وکړي چه تاسو ضرورت لري چه د يوه اوږدی مودی پوري په روغتون کي پاته شي. تاسو کولاي شي چه فيصله وکړي چه په دواطلبانه شکل پاته شي.

که چيري تاسو اوس هم نه غواړي چه په روغتون کي پاته شي، او ستاسو د مواظبت صلاحيتدار شخص، او يا د هغه مرستيال، باور لري چه تاسو سخت ناروغ ئي چه روغتون ترک کړي، کيداي شي چه دوي ضرورت پيدا کړي چه تاسو دلته د دماغي روغتيائي مقرراتو تر بلی برخه لاندي وساتي. دوي تاسو ته وائي چه ولي او د څومره مودی پوري تاسو دلته ساتل کيږي. او کيداي شي چه تاسو ته بله نشريه ورکړي چه تاسو ته تشريح کوي چه بيا څه پيښيږي.

که چيري ستاسو د علاج صلاحيتدار شخص، او يا د هغه مرستيال، فيصله وکړي چه تاسو ضرورت نلري چه پاته شي، دوي او يا نور د کارکونکو غړي تاسو سره خبري کوي چه نور څنګه مرستي تاسو بايد ولري.

## ايا زه درخواست کولاي شم؟

يه. حتي که چيري تاسو موافقه و نلري چه تاسو ضرورت لري چه اوس روغتون کی پاته شي، تاسونشي کولاي د هغی يوی فيصلی په مقابل کي چه تاسو تر (4)5 برخی لاندي په روغتون کي ساتل کيږي درخواست وکړي.

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قريبان وپوهيږي

د دغه نشريه يوه کاپي هغه کس ته ورکول کيږي چه د دماغي روغتيا لايحه ووايي چه دغه ستاسو نژدي قريب دي.

دلته د دماغي روغتيا په لايحهٔ کی يوه لست دي چه کوم کسان ستاسو نژدی قريبان دي. په طبيعی ډول، هغه شخص چه په لست کي لومړيتوب لري هغه ستاسو نژدي قريب ګڼل کيږي. د روغتون کارکونکی کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه راکړي چه دا تشريح وکړي چه ستاسو نژدي قريبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط څه حقوق لري.

ستاسو په قضيه کي، مونږ ته ويل شوي دي چه ستاسو نژدي قريبان دا دي:

که چيري تاسو نه غواړي چه دغه سړي يوه کاپي نشريه تر لاسه کړي، لطفاً خپلی نرس او يا د کارکونکي ډلی بل غړي ته ووايي.

## ستاسو د نژدي قريبانو بدلول

که چيري تاسو فکر کوي چه دغه ستاسو د نژدي قريبانو په حيث يو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د مربوطه محل په محکمه کي د يو بل کس دپاره درخواست وکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قريب په عوض چلند وکړي.
د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه ورکړي چه په هغه کي دغه تشريح شوي دي:

## ستاسو ليکونه

هغه ټول ليکونه چه تاسو ته راغلي دي د هغه وخت نه چه تاسو په روغتون کي ئي تاسو ته ۆرکول کيږي. تاسو کولاي شي چه هر چا دپاره خط وليږي پرته له هغه کسانو څخه چه دوي ويلي دي چه دوي نه غواړي ستاسو له خوا ليکونه واخلي.
ليکونه دغو خلکو ته د روغتون د کارکونکو له خوا ځنډول کيږي.

## څنګه زه شکايت کولاي شم ؟

که چيري تاسو وغواړي چه د ځني شيانو د سرته رسولو په باره کی چی په روغتون کی ستاسو د مواظبت او علاج په تړاو دی، شکايت وکړي، لطفاً د کارکونکو د يوه غړي سره خبري وکړي. کيداي شي چه دوي قادر وي چه موضوع حل کړي .
همدا راز دوي کولاي شي چه تاسو ته د روغتون د شکاياتو د طريقي په باره کي معلومات ورکړي، چه تاسو وکولاي شي د هغه نه په استفادي خپل شکايات د هغی لاري حل کړي چه د داخلي حل په نامه ياديږي. همدا رنګه دوي کولاي شي چه تاسوته د ځني خلکو په باره کي چه هغوي کولاي شي ستاسو شکايتونو ته رسيدګي وکي خبري وکړي.

که چيري تاسو احساس و کړه چه د روغتون د شکايات روش نه شي کولای چه تاسو سره مرسته وکړي ، تاسو کولاي شي چه يوه مستقل کمسيون ته شکايت وکړي. کمسيون نظارت کوي چه د دماغي روغتيا د لايحی څخه څرنګه استفاده کيږي ، اطمينان حاصل کوی چی هغی نه په صحيح توګه استفاده شوي ده او دغو ناروغانو ته د هغه وخت څخه چه دوي په روغتون کي دي په صحيح توګه توجه شوي ده. د روغتون کارکونکی کولاي شي چه تاسوته يوه تشريح شوي نشريه ورکړي چه څرنګه کمسيون سره ارتباط پيدا کړي.

## د تمرين کود

دلته د تمرين يو کود دي چه د روغتون کارکونکو ته چی د خلکو د دماغی ناروغی درمان کوی د دماغي روغتيا د لايحی په باره کي مشوره ورکوي. کارکونکي مجبور دي چه کود تر کتني لاندي ونيسي چه کود څه ويلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصميم نيسي. تاسو کولاي شي غوشتنه وکړي چه د کود يوه کاپي د ليدلو لپاره درکړه يی، که چيري تاسو وغواړي.

## زيادتر مرستي او معلومات

که چيري دلته ځني شيان ستاسو د مواظبت او علاج په باره کي وي چه تاسو په هغه نه ياست پوه شوي، د کارکونکو يو غړي کوشش کوي چه تاسو سره مرسته وکړي. لطفاً د کارکونکو د يوه غړي څخه غوشتنه وکړي چه ستاسو د پاره يی تشريح کړي که چيري ځني شيان په دغه نشريه کي ستاسو دپاره واضح نه وي او يا تاسو په هغه پوه نشي او يا که چيري تاسو بله پوښتنه لري چه دغه نشريه ځواب نه ورکوي .

لطفاً پوښتنه وکړي که چيري تاسو علاقمندي لري چه د دغی نشريی يوه بل کاپي د يو بله چا دپاره ورکړي.